# رغونه
## اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او
لاسته راوړنو خبري اونیزه

د رجب المرجب ۲۷مه، ۱٤٤٧ هـ ق کال
مرغومې/جدی ۲۷ مه، ۱۴۰۴ هـ.ش کال

لومړی کال، پرله پسې ۴۷ مه ګڼه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست


## په دې ګڼه کې لولئ:


ننګرهار — د بتي کوټ ښاروالۍ له لوري د نوي سړک د جوړولو چارې پیل شوې

بلخ — د مزارشریف ښاروالۍ له لوري د هوايي ډګر سړک د ګلدان کانکریټي جدولونو د نصب چارې تېره ورځ رسماً پیل شوې

بلخ — د نوي ښار څلورلارې د عصري طرحې لهمخې د جوړېدو چارې د بشپړېدو په حال کې دي

خوست — خوست کې د مرکزي کانال دواړو غاړو سړکونه ژر ګټې اخیستنې ته سپارل کېږي

ننګرهار — جلال‌اباد ښاروالۍ په څلورمه ناحیه کې د دوهمې سیخدارۍ ویالې چارې پیل کړې دي

بلخ — د مزارشریف صنعتي پارکونو سړک د قیرریزۍ پروژه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه

هرات — د هرات ښاروالۍ د یوولسمې ناحیې اړوند د قبول دراز سړک د بنستیزو طبقاتو د رغونې چارې روانې دي.

هلمند — د لښکرګاه ښاروالۍ اووه پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارلې او د کانال د بنسټ ډبره کېښېښول شوه

خوست — د خوست-پکتیا عمومي سړک د دوهم لین سړک او لښتیو پروژې پیل شوې چارې دوام لري

ننګرهار — د جلال‌اباد ښار اتمه ناحیه کې د ۲۸ میلیونو افغانیو په لګښت د سړک جوړولو چارې روانې دي

فاریاب — جلسه ربع سوم شبکه شاروالی‌های ولایت فاریاب برگزار گردید

ننګرهار — د جلال‌اباد ښاروالۍ او د دوهمې ناحیې ولسونو ترمنځ د ښاري فرهنګ او همکارۍ ناسته ترسره شوه


## شپږمه ناحیه کې د ۶.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د سړک کانکریټ چارې پیل شوې دي



ننګرهار

## د پل‌علم ښار عمومي سړک د ۴۷ میلیونه افغانیو په لګښت رغول کېږي



لوګر

## جلال‌اباد کې د ۱۵،۵ میلیونو افغانیو په ارزښت سړک او پلچکونه جوړېږي



ننګرهار

مسابقه "رقابتی فرهنگ شهرنشینی، شناخت جایگاه شاروالی و مسئوولیت شهروندان درقبال شهر" که توسط شاروالی ولسوالی خُلم راه‌اندازه شده بود، با اخذ امتحان پایان یافت. شهروندان و شاگردان معارف چنین برنامه‌ها را باعث آگاهی و پیشرفت شهروندان در قبال خانواده، جامعه و شهر داستند.


بلخ ۱

## اعلان داوطلبی شاروالی چاریکار

شاروالی شهر چاریکار در نظر دارد که پروژه ساخت ۱۵۰ پایه زباله‌دانی فلزی به‌شکل (دولچه‌ای) و ۱۰ عدد ظرف فلزی تخلیه زباله که ضرورت شاروالی است را به داوطلبی باز بگذارد.

به اطلاع عموم سکتورهای خصوصی و دولتی و شرکت‌های و اجدشرایط رسانیده می‌شود که اگر خواهان اشتراک در پروسه داوطلبی باشند درخواست‌های خویش را بخاطر اخذ آفر به مدیریت تدارکات شاروالی چاریکار بسپارند و الی ۲۱ روز پس از نشر این اعلان غرض داوطلبی به ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در ریاست شاروالی چاریکار حاضر شوند.

قبل از اشتراک در مجلس داوطلبی شرط‌نامه را ملاحظه فرمائید.

تضمین به‌شکل بانکی اخذ می‌گردد.

پروان ولایت

شاروالی محمودراقی یک میت مجهول‌الهویه را که در اثر حادثه ترافیکی در مربوطات حوزه اول به شفاخانه ولایتی کاپیسا انتقال داده شده بود، پس از عدم شناسایی و نیافتن اقارب، تکفین نموده و پس از ادای نماز جنازه در هدیره دشت ریگروان به خاک سپرده شد.


کاپیسا ۲

## د بټي‌کوټ ښاروالۍ له لوري د نوي سړک د جوړولو چارې پیل شوې دي


ننګرهار ۳

د ننګرهار – بټي‌کوټ ښاروالۍ له لوري د بټي‌کوټ عالي لیسې له دروازې څخه تر قصابۍ پله پورې د نوي سړک د جوړولو چارې تېره ورځ رسماً پیل شوې دي.

دا پروژه چې د بټي‌کوټ ښاروالۍ لهخوا پلې کېږي، پکې د سړک جوړول، د دواړو غاړو لښتې، پلونه، روډ مارکینګ، په هر ۲۵ مترو کې د سولري پایو نصبول، د ولسوالۍ مقام او کلینیک مخې ته جمپونه، د کرب ستون رنګول او د سنټر ګلدان جوړول شامل دي. یاده پروژه د سیمې د ترانسپورټي ستونزو د حل، د خلکو د تګ راتګ اسانتیا او د ښار ښکلا ښه کولو په موخه د ازادې داوطلبۍ له لارې د ۱۰,۹۷۰,۰۱۲.۸۱ افغانیو په لګښت پیل شوې دي.

## د حکومتولۍ مدیر، د قره‌باغ جامع مسجد کې د جمعې لمانځه خطبه څخه مخکې وینا وکړه

د کابل –قره‌باغ ښاروالۍ د حکومتولۍ مدیر، د عامه پوهاوي، د ګذرونو د معیاري جوړولو او د بازار د تنظیم او د نظم د مراعتولو په اړه مهمې سپارښتنې وکړې، له لمونځ کوونکو یې وغوښتل چې د ښاري اصولو په تطبیق کې له ښاروالۍ سره همکاري وکړي.

همدارنګه، د الرساداتو کلي کې د ماښام له لمانځه وروسته د سیمې له اوسېدونکو سره خبرې وکړې او له هغوی یې وغوښتل چې خپلو کورونو ته د صفایۍ کتابچې واخلي او د پاک چاپېریال په ساتنه کې فعاله ونډه واخلي.

کابل ۴

## د ګرمسېر ښاروالۍ د یو ګډ هیئت له لوري د پلو لارو د خلاصون کمپاین ترسره کړ

د هلمند– ګرمسېر ښاروالۍ د مارکېټونو د تنظیم مدیر د ولسوالۍ، امنیه قوماندانۍ او مربوطه حوزې د استازو په ګډ هیئت د هزار جفت بازار څخه نظارت ترسره وکړ.

بندې لارې یې خلاص کړې، د بې‌نظمۍ مخنیوی یې او د ښاري نظم رعایت کولو په منظور یې هټیوالو ته لازمې توصیې وکړې.

د یادولو ده چې د ګرمسېر د ښاروالۍ له لوري له دې وړاندې هم ورته ګامونه اخیستل شوي وو او دا لړۍ به لا هم دوام ومومي.

هلمند ۵

دور سوم جلسه بورد مشورتی شاروالی تالقان تحت ریاست احمد فرید احدی معاون بورد مشورتی شاروالی تالقان، با حضور اعضای این بورد در دفتر کاری بورد مشورتی تدویر گردید. در این جلسه پیرامون موضوعات مهم شهری از جمله پاک‌کاری شهر، جمع‌آوری و تنظیم دست‌فروشان و انتقال به مندوی سابقه غله بازار بحث و تبادل نظر صورت گرفت. اشتراک‌کنندگان بر هماهنگی بیشتر میان شاروالی، کمیته‌های مربوطه و شهروندان تأکید نموده و تصمیمات اتخاذ شده را در راستای ایجاد نظم شهری، پاکیزگی محیط و بهبود وضعیت اقتصادی دست‌فروشان مهم و ضروری خواندند.


تخار ۶

د کابل –قره‌باغ ښاروالۍ د تنظیف او زرغونتیا مدیریت کارکوونکو د ښار د عمومي سیمې، اصلي او فرعي سړکونه په منظم ډول جارو او پاک کړل. یاد فعالیت د ښار د پاکوالي، عامه روغتیا او ښاري نظم د تأمین په موخه ترسره شول.


کابل ۷

## د مزارشریف ښاروالۍ له لوري د هوایي ډګر سړک د ګلدان کانکریټي جدولونو د نصب چارې تېره ورځ رسماً پیل شوې


مزار شریف ۸

دا پروژه چې د مزارشریف ښاروالۍ لهخوا د ښار د پراختیایي پروګرامونو په چوکاټ کې پلې کېږي، مزارشریف کې د هوایي ډګر پر سړک عملي کېږي او موخه یې د ترافیکي نظم ښه‌والی، د ښاري زیربناوو پیاوړتیا او د ښار د ښکلا لوړول دي.

د پروژې په ترځ کې د سړک معیاري قیرریزي، د عصري تنویر سیسټم نصب او د زرغونتیا رامنځته کول شامل دي، چې چارې یې د تخنیکي نقشې او ښاري معیارونو سره سم روانې دي.

## اطلاعیهٔ تصمیم اعطای قرارداد شاروالی خُلم

شاروالی خُلم در نظر دارد تا پروژه ترمیم و بازسازی هوتل چشمه حیات ملکیت خویش را که واقع در قریه سیغانچی جوار سرک ترانزیتی کابل-مزار با شرکت ساختمانی تهداب شهر که بعد از طی مراحل پروسه آفرگشایی و ارزیابی به ارزش مبلغ (۱,۶۳۶,۷۶۰) یک میلیون و ششصد و سی و شش هزار و هفتصد و شصت افغانی برنده گردیده است، عقد قرارداد نماید.

اشخاص حقیقی و حقوقی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند می‌توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست شاروالی ولسوالی خُلم ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق‌الذکر طی مراحل قانونی بعدی قرارداد منعقد نخواهد شد.

بلخ ولایت

## د نوي ښار څلورلارې د عصري طرحې له‌مخې د جوړه‌ولو چارې د بشپړېدو په حال کې دي



مزار شریف ۹

د مزارشریف ښاروالۍ له لوري د نوي ښار څلورلارې د جوړولو چارې د عصري ډیزاین او نوي طرحې له‌مخې د ښار د دولسمې ناحیې په مربوطاتو کې په جدي ډول روانې دي، چې تر اوسه یې شاوخوا ۸۵ سلنه فزیکي پرمختګ کړی دی.

دغه پروژه د بلخ ولایت د والي د هدایت او د مزارشریف ښاروال د هڅو په پایله کې، د فرنت‌لاین ګروپ شرکت په مالي همکارۍ پلې کېږي.

یاده پروژه د ښاري ښکلا، نظم او مثبت بدلون په موخه عملي کېږي، چې پکې د سړکونو پراخول، د ډبرو لګول، د تزییني فوارو جوړه‌ول، د شنو ساحو رامنځته کول، د نیالګیو او زینتي ګلانو کښت او د معیاري روښنایي څراغونو نصب شامل دي.

مسؤولین وایي؛ د پروژې پاتې چارې به په نږدې وخت کې د ټاکل شویو تخنیکي معیارونو سره سم بشپړې شي.

شاروالی تالقان ولایت تخار، پروژه اعمار جویچه‌های دو طرف سرک از چهارراهی تیل‌فروشی سابقه تا چهارراهی شهیدی به طول ۱۲۰۰ متر و عرض ۹۰ سانتی‌متر را به‌گونه اساسی تکمیل نموده است که با تکمیل این بخش، پروژه وسعت‌دهی سرک ۳۵٪ پیشرفت داشته و مراحل بعدی آن به‌زودی آغاز میگردد. مولوی عبدالغفور سیرت، شاروال تالقان، اعمار جویچه ها را برای تنظیم آب‌های سطحی و دوام سرک‌ها ضروری دانسته و آن را بخشی از تعهد شاروالی در توسعه زیربناهای شهری عنوان کرد.



تخار ۱۰

اداره شاروالی بازارک ولایت پنجشیر کار پاک‌کاری و ترمیم سرک‌های آسیب دیده از سیلاب در قریه‌های پیاوشت، پای‌چنار و چمال‌ورده ولسوالی رخه را تکمیل نموده است. رحمت‌الله محمدی، شاروال بازاراک در جریان ختم برنامه پاکسازی راه ها، گفت این برنامه توسط مدیریت تنظیف و سرسبزی تطبیق شده و حدود ۷۷ متر سرک ترمیم گردیده است. باشندگان محل با استقبال از این اقدام، خواستار تداوم خدمات مشابه در آینده شدند.



پنجشیر ۱۱

شاروالی چاریکار ولایت پروان، کار سروی و نمونه گیری برای تهیه بسته تخنیکی سرک چهل متره این شهر را تکمیل نموده و قرار است بزودی مراحل دیزاین و برآورد آن آغاز گردد. این سرک با دو خط‌سیر، از بودجه داخلی شاروالی در سال آینده اعمار می گردد که یک خط سیر آن به شاروالی چاریکار اختصاص یافته است.



پنجشیر ۱۲

د هلمند- ګرشک ښاروالۍ د عوایدو لوړولو او ښاري خدمتونو د پیاوړتیا په موخه د ښاروالۍ اړوند د تیلو پمپ د رغولو چارې پیل کړې دي. دا اقدام د فني ارزونو او ساحوي لیدنو پر بنسټ شوي، څو عامه شتمنۍ په اغېزناک ډول مدیریت او د ښاریانو لپاره معیاري خدمتونه برابر شي.

هلمند ۱۳

## د میدان‌ښار ښاروالۍ له لوري د قصابانو لپاره ۱۳ بابه دوکانونه جوړ شول



میدان وردګ ۱۴

د میدان‌ښار ښاروالۍ له لوري د ښاریانو د اړتیاوو پوره کولو او د ښاري خدمتونو د پراختیا په موخه، د قصابانو لپاره ۱۳ بابه معیاري دوکانونه د سپهر ابراهیم‌خېل شرکت له لوري په منظم او معیاري ډول جوړ شول.

د لښکرګاه ښار دریېمه ناحیه کې د چاپېریال د ککړتیا د مخنیوي په موخه د صفایي پراخې چارې ترسره شوې. په دې بهیر کې کثافات راټول، کثافات دانۍ تشې او سړکونه پاک شول، څو ښاریانو ته پاک او سالم چاپېریال برابر شي.

هلمند ۱۵

## خوست کې د مرکزي کانال دواړو غاړو سړکونه ژر ګټې اخیستنې ته سپارل کېږي



خوست ۱۶

د خوست ښاروالۍ د پراختیایي بودجې له‌مخې د دریېمې ناحیې اړوند، د خوست امنیه قومندانۍ مخې ته او د لوی محمدي مسجد ترمنځ د ښار مرکزي کانال دواړو غاړو سړکونه اساسي جوړېږي.

د سړکونو د اساسي جوړېدو او روډ مارکینګ چارې تر څار لاندې روانې دي او ډېر ژر به د ښاریانو د ستونزو د هواري لپاره ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. همدارنګه، د خوست ښار د نجارانو کوڅې د لښتیو او سړک د اساسي جوړېدو چارې هم پیل شوې دي.

مدیریت کنترل امور مارکیت‌های شاروالی میمنه با همکاری مدیریت انضباط شهری و مدیریت ناحیه سوم، دکاکین واقع در امتداد مسیر حوزه دوم امنیتی را که در بخش ترمیم موتورسیکلت فعالیت داشتند، مهر و لاک نمود. این اقدام پس از تذکرات مکرر به‌منظور انتقال فعالیت‌ها به داخل سرای‌ها و به‌دلیل مسدود شدن پیاده‌روها و ایجاد بی‌نظمی در جاده ها انجام شده است.



فاریاب ۱۷

محمد امین فرهنگ، مدیر عمومی ناحیه ششم شاروالی تالقان ولایت تخار، حین نظارت از ساحات مختلف شهر تالقان، بر رعایت مقررات شهری تأکید نمود. وی با متخلفین در پیاده‌روها صحبت نمود و توصیه‌های قانونی را برای آنها ارائه کرد. همچنان، در دیدار با باشندگان تالقان، مشکلات آنان را استماع کرد و از تلاش شاروالی برای بهبود وضعیت شهری اطمینان داد.



تخار ۱۸

## شاروال میمنه از روند کاری پروژه‌های انکشافی و زیربنایی در سطح شهر نظارت نمود



فاریاب ۱۹

داملا محمد امین فرقانی، شاروال شهر میمنه با مدیر عمومی خدمات تخنیکی و مسلکی و مدیر انجنیری و زیربنا ها، از جریان کار شماری از پروژه‌های انکشافی و زیربنایی در سطح شهر میمنه بازدید و نظارت به عمل آوردند.

در این بازدید از تعمیر تجارتی و اداری مدیریت ناحیه پنجم، مجتمع تجارتی و رهایشی پریدگاه، کانال توریاختو و کانال کمربند میمنه-مزارشریف دیدن به عمل آمد.

شاروال میمنه بر تسریع روند تطبیق پروژه‌های عام‌المنفعه تأکید نمود و به شهروندان اطمینان داد که شاروالی میمنه با برنامه ریزی منظم و اصولی، همه‌روزه در تلاش است تا زمینه زندگی بهتر و محیط شهری منظم‌تر را برای باشندگان این شهر فراهم سازد.

## اطلاعیه ریاست شاروالی مزارشریف

شاروالی مزارشریف به منظور تقویه بنیه مالی خویش در نظر دارد در سال جاری بازار نخاس (مال بازار) واقع در مربوطات ناحیه نهم این شهر را از طریق داوطلبی به اجاره بدهد.

افراد، اشخاص، شرکت‌ها و موسساتیکه تقاضای داوطلبی آنرا داشته باشند میتوانند مطابق شرطنامه داده شده درخواست‌های خویش را از تاریخ نشر اعلان به آمریت تدارکات و قراردادها شاروالی مزارشریف سپرده و خودشان بعد از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۷ روز تقویمی به دفتر مدیریت تسهیل قراردادها مراجعه نمایند.

یادداشت ۱: تضمین پول نقد به مبلغ (۸۰۰۰۰۰) هشتصد هزار افغانی، طبق ماده ۲۹ فقره ۸ طرزالعمل تدارکات

یادداشت ۲: یادداشت ۲: نقل چاپ شده با پرداخت قیمت شرطنامه به مبلغ ۲۰۰۰ دو هزار افغانی بوده و شرط شمول عدم باقی‌داری است و همچنان تضمین و ثلث وجه

ولایت مزارشریف

د کابل -قره‌باغ ښاروالۍ د ۱۴۰۴ هـ. ش. کال د کلنۍ بودجې له جملې څخه د تمویلېدونکو پراختیايي پروژو په لړ کې، د تعمیراتو د دوهمې برخې د کوڅو د کانکریټ اچولو پروژه دا مهال د تطبیق په حال کې ده.

د یادې پروژې فزیکي چارې تر دې دمه شاوخوا ۷۰ سلنه پر مخ تللي دي او کارونه د ښاروالۍ تر نظارت لاندې په منظم ډول دوام لري.



کابل ۲۰

د میدان‌ښار ښاروالۍ د تنظیف او زرغونتیا مدیریت له لوري د شهید ګل محمد خان پارک ته څېرمه د پاسپورټ امریت او مرکزي زندان څخه راټول شوي کثافات په منظم ډول انتقال او له سیمې وایستل شول. ښاروالۍ د پاک او زرغون ښار لپاره د ښاریانو د همکارۍ غوښتنه کوي.



میدان وردګ ۲۱

## اطلاعیه ریاست شاروالی مزارشریف

شاروالی مزارشریف به منظور تقویه بنیه مالی خویش در نظر دارد در سال جاری تا مطابق نقشه موازی ۵۴ متر مربع زمین خویش را به شکل یک باب دوکان در دو طبقه به شکل اساسی و پخته اعمار نماید.

افراد، اشخاص شرکتها و موسساتیکه تقاضای دواطلبی آنرا طور قرارداد داشته باشند می توانند مطابق شرطنامه درخواستی های خویش را از تاریخ نشر به آمریت تدارکات و قراردادها شاروالی مزارشریف سپرده و خودشان بعد از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز تقویمی به دفتر آمریت تدارکات و قراردادها مراجعه نمایند.

یادداشت ۱: تضمین پول نقد: مبلغ (۱۰۰۰۰۰) یکصد هزار افغانی طبق ماده ۲۹ فقره ۸ طرزالعمل تدارکات

یادداشت ۲: نقل چاپ شده با پرداخت قیمت شرطنامه به مبلغ ۱۰۰۰ یک هزار افغانی بوده و شرط شمول عدم باقی‌داری است و همچنان تضمین و ثلث وجه اجاره نقداً اخذ میگردد.

ولایت مزارشریف

کمیته تنظیم بازار شاروالی نیلی ولایت دایکندی، روز شنبه(۲۰ جدی) از نانوایی‌ها، پیاده‌روها و روند تنظیف شهر نظارت کرد. در این نظارت، به کارکنان بخش تنظیف جهت پاک‌کاری جویچه‌ها و حفظ نظافت شهر هدایت داده شد و همچنان به نانوایی‌ها دستور داده شد تا مطابق نرخ‌نامه جدید فعالیت نمایند، در غیر آن با متخلفین برخورد قانونی خواهد شد.




میدان وردگ ۲۲

د مهترلام ښاروال په مشرۍ د ښاروالۍ نوبتي اداري ناسته د امرینو او مدیرانو په ګډون ترسره شوه. په ناسته کې د ښاري نظم او مهمو اداري موضوعاتو په اړه بحث وشو او ښاروال د مراجعینو ستونزو ته پر وخت رسېدنه ټینګار وکړه.



لغمان ۲۳

د محمودراقي ښاروال حافظ مولوي شیراز عبدالله د اداري کمپلکس تفریحي پارک د شنو ساحو او پلو لارو د پراختیا پروژې له پرمختګ څخه لیدنه وکړه او مسؤولینو ته یې د کار د کیفیت لوړولو لارښوونې وکړې.


کاپیسا ۲۴

مدیریت ناحیه ششم شاروالی تالقان ولایت تخار، با همکاری مدیریت تنظیف، جاده عمومی پل شهروان تا پل گاو مالی و شماری از کوچه‌ها را پاک‌کاری کرد. مقدار زیادی زباله جمع‌آوری و از شهر خارج شد. مسئولان با تأکید بر تداوم برنامه‌های تنظیفی، از شهروندان خواستند در حفظ نظافت شهر همکاری نمایند.


تخار ۲۵

د سپین‌بولدک ښاروالۍ د تنظیف او زرغونتیا مدیریت کارکوونکو د کاري پلان له مخې د ښار، اصلي او فرعي سړکونه جارو او پاک کړل او راټول شوي کثافات یې له ښاره بهر ولېږدول. د ښار پاکوالی د عامې روغتیا لپاره مهم دی.


کندهار ۲۶

د جلال‌اباد ښاروالۍ د تنظیف او زرغونتیا امریت له لوري د څلورمې ناحیې اړوند بېلابېلو ساحو څخه د کثافاتو د انتقال چارې جریان لري، په ورته د تنظیف کارکوونکي له نهه ګونو ناحیو څخه هره ورځ ۶۵۰ متره مکعب کثافات راټولوي او مناسبو ځایونو ته یې انتقالوي.


ننګرهار ۲۷

د جلال‌اباد ښاروالۍ د مارکېټونو تنظیم امریت او ښاري انظباطانو له لوري د ښاري نظم د رامنځته کولو په موخه د لومړۍ ناحیې بېلابېلو برخو کې د ښاري نظم راوستو، پلو لارو خلاصولو او لاس پلورونکو د تنظیم په موخه کمپاین ترسره شو.
د کمپاین پرمهال ښاري انظباطانو لاس پلورونکو ته خبرداری ورکړ چې که چېرې ښاري نظم په پام کې ونه نیسي لاسي کراچۍ به یې ضبط شي بیا د شکایت حق نه لري.


ننګرهار ۲۸

مدیریت ناحیه هشتم شاروالی میمنه طی مراحل متراژبندی منازل مسکونی را این ناحیه آغاز نموده و تمام منازل در دفاتر رسمی ثبت می‌گردد تا از سرگردانی شهروندان جلوگیری شود.

فاریاب ۲۹

۲۲۰ متر کار سیخ‌بندی و ریخت دو طرف دیوار کانال کمربند ورودی میمنه-مزارشریف تکمیل گردید و تا اکنون به طول ۳۵۰ متر از این کانال کندن‌کاری شده و تهداب آن ریخت گردیده است و کار در بخش باقی مانده آن به‌صورت منظم و مطلوب جریان دارد.

مزارشریف ۳۰

## حافظ مولوی شیراز عبدالله، شاروال محمودراقی از بازار ده باباعلی نظارت نمود


کاپیسا ۳۱

حافظ مولوی شیراز عبدالله، شاروال محمودراقی از بازار ده باباعلی نظارت نمود و با اصناف در رابطه به ایجاد نظم بهتر بازار، جلوگیری از بی‌نظمی و بازگشایی پیاده‌روها به‌منظور سهولت رفت‌وآمد شهروندان گفتگو کرد.

همچنان مشکلات مطرح‌شده توسط دکانداران و شهروندان شنیده شد و اطمینان داده شد که جهت رسیدگی به آن‌ها اقدامات لازم انجام خواهد شد.

شاروال محمودراقی بر همکاری مشترک اصناف و شاروالی برای تأمین نظم شهری، حفظ حقوق عابران پیاده و بهبود خدمات شهری تأکید نمود.

د سپین‌بولدک ښاروالۍ د ښاري حکومتولۍ مدیر د ښار د یوې لویې حیاتي پروژې له روانو چارو څخه لیدنه وکړه او د قراردادي شرکت له انجنیر سره یې د کار بهیر وڅاره. دا مهال د سړک د لښتی کینډل، PCC او RCC کارونه، د خنډونو لرې کول او سروي چارې په چټکۍ رواني دي. ښاروالۍ له درنو ښاریانو غوښتي چې د پروژې له ساحې څخه خپل وسایط او توکي لرې وساتي، تر څو چارې منظمې او ژر بشپړې شي.


کندهار ۳۲

## دربیمه ناحیه کې د ښاري فرهنګ د پیاوړتیا په موخه ناسته ترسره شوه


ننګرهار ۳۳

د جلال‌اباد ښاروالۍ د ښاري حکومتولۍ رئیس مولوي سیف الرحمن شینواري او د دربیمې ناحیې امر حاجي احمد عبیده د دربیمې ناحیې د ګذر وکیلانو او اوسېدونکو سره ناسته وکړه. دا ناسته د ښاري فرهنګ دودولو، ښاري نظم او له ښاروالۍ سره د دوه اړخیزو همکاریو د پیاوړتیا په موخه ترسره شوه.

په ناسته کې د اسلامي اصولو له‌مخې د ښاري فرهنګ پر اهمیت ټینګار وشو او د قانوني عوایدو د راټولولو په برخه کې د همکارۍ غوښتنه وشوه. د ګذر وکیلانو د ښاروالۍ سره د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړ او د ناحیې یو شمېر ستونزې هم شریکې شوې.

د کابل – قره‌باغ ښاروالۍ د حکومتولۍ مدیریت او د صحت عامه امریت په ګډه د قره‌باغ په مرکزي شفاخانه کې ناسته ترسره کړه. په ناسته کې د ولسوالۍ د جنايي امر، د درملتونونو استازو، د خصوصي کلینکونو مالکینو او ډاکترانو ګډون درلود.
ناسته کې د نا لوستلو وړ (شفري) نسخو د مخنیوي په اړه بحث وشو او پرېکړه وشوه چې د لاس‌لیکلي نسخو پر ځای دې کمپیوټري ټایپ شوې نسخې وکارول شي. همدارنګه د مروه شفا کلینک مالک د خلکو د خدمت، معیاري صحي خدماتو او نوې ټکنالوژۍ د کارولو ډاډ ورکړ.

کابل ۳۴

د هلمند -گرشـک ښـاروالۍ له لوري د څـه باندې ۹ میلیونه افغانیو په لګښت د ښاروالۍ نوې دوه پوړېزه ودانۍ د ښـار په اداري سـیمه کې جوړېږي. د ودانۍ چارې په چټکۍ روانې دي او ژر به بشـپړې شي. یاده ودانۍ به د ښاریانو لپاره غوره خدمات، پراخ پارکینګ او ځانګړی پارک ولري.



هلمند ۳۵

جلســه کمیته نظم بازار چاریکار به هدف تشخیص راه کارهای مناســب برای تنظیم بازار، صنف‌بندی دســت فروشان و تثبیت مکان برای کراچی‌داران شهر چاریکار با حضور شــاروال چاریکار، مدیران و مســئوولان این کمیته در شــاروالی چاریکار برگزار شــد و در این موارد بحث و تبادل صورت گرفت.



کاپیسا ۳۶

کار اعمار مجتمع تجارتی و رهایشــی گــذر پریدگاه به بیش از ۹۳ درصد پیش رفته است و کار در بخش نصب دروازه‌هــای ورودی، شیشــه‌های کلکین‌ها و سرامیک کاری این تعمیر با سرعت چشــم‌گیر توســط شاروالی میمنه جریان دارد.



فاریاب ۳۷

به‌منظور ایجــاد نظم شــهری و حصــول اطمینان از مکلفیت‌هــای مالی کســبه کاران در شــهرک گنبدک، مدیریت ناحیه اول شــاروالی بامیان بــا همکاری مأمور جمع‌آوری باقیات مدیریت عواید، از بازار چوب‌فروشان و نجاری‌های ساحه شــهرک گنبدک واقع در ناحیه اول این شهر نظارت کردند.



بامیان ۳۸

## شــپږمه ناحیه کې د ۶.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د سړک کانکریټ چارې پیل شوې دي



ننګرهار ۳۹

د جلال‌اباد ښاروالۍ د ۱۴۰۴ مالي کال د پروژوي خدمتونو په لړ کې، د شــپږمې ناحیې د ګل آغا مسجد جنوب لوېدیځ لوري ته د ۶.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د سړک د کانکریټ چارې پیل کړې. دا پروژه د ۴۶۰ مترو په اوږدوالي او ۷ مترو په سور، او د دواړو غاړو ته د ۹۲۰ مترو ویالو په جوړېدلو عملي کېږي.

یاده پروژه د ښاري تګ راتګ اسانتیا، د اوبو منظم مدیریت او د سیمې د اوسېدونکو د ستونزو د حل په موخه د قراردادي شرکت له لــوري پلي کېږي. د ښــاروالۍ تخنیکي ټیمونو د کارونو څارنه پیل کړې او د کیفیت ډاډ یې ورکړی دی.

د هلمند -گرشــک ښــاروالۍ له لــوري د عامه لارو د خلاصون او ښاري نظم د ټینګښت په موخه، د بغرا کانال څخــه تر رود پل پــورې تعقیبي نظارت ترسره شــو. د نظارت پر مهال پلو لارو او ســړک غاړې پاکې شوې او کراچۍ‌چلوونکــو او دوکاندارانــو ته جدي سپارښــتنې وشوې.



هلمند ۴۰

## کندهار ښاروالۍ خبرتیا!

د کندهار ښاروالۍ د ۱۴۰۴ مالي کال د پراختیایي بودجــې او تــدارکاتي پلان له‌مخــې، د پلو لارو د اســاسي جوړېدونې پروژې قرارداد د نعمان فاطمي ســاختماني شرکت سره د ۴،۱۸۳،۹۷۱ افغانیو په ارزښت د رسمي طی‌مراحلو په حال کې دی.

هغه حقیقي او حکمي اشــخاص چې اعتراض لري، کولای شي خپل لیکلي اعتراضونه د جدي له ۲۰ – ۲۳ پــورې د تهیه او تدارکاتــو عمومي مدیریت ته وسپاري.

د معلوماتو لپاره: ۰۷۰۷۹۷۰۷۶۰

ولایت کندهار

د ښــاري طرحو او پلانونو د شریکولــو لړۍ په دوام، د کندهار ښاروالۍ د ښاري پلانونو امریت د ښار له ښلابلو ناحیو څخه له ۸۲ تنو مراجعینو سره د ماســټر پلان او رهــایشي، تجارتي او خدماتي ســیمو پــه اړه تفصیلي معلومات شریک کړل. ښــاریان کــولای شي هره ورځ ټاکلي وخت کې معلومات ترلاسه کړي.

یادښــت: تصویر د کندهار ښــار د څوارلســمې ناحیې تفصیلي پلان دی.




کندهار ۴۱

ریگریزی و جغل‌اندازی جاده گذر قصر یحیی در ناحیه اول شــاروالی ولســوالی گذره ولایت هــرات، به‌منظور ســهولت رفت و آمد وسایط و جلوگیری از گل و لای در زمستان، انجام شده است.



هرات ۴۲

کار احــداث کانــال توریاختو در امتداد سرک عمومی میمنه-هــرات ۳۳ درصد پیش رفته اســت و اکنون در مرحله سیخ‌بندی دیوارهای دو طرف کانال قرار دارد.



فاریاب ۴۳

به ادامــه برنامه‌های نظارتی شــاروالی محمودراقی به هدف جلوگیــری از تخلفات، رســیدگی به شــکایات شــهروندان و بلند بردن کیفیت خدمات نانوایی‌ها، تیم موظف شــاروالی شــبهنگام از نانوایی‌های سطح شهر نظارت نمود.



کاپیسا ۴۴

شاروالی گذره ولایت هرات، کار اعمار پروژه پل صنعت کاران و یک پوسته امنیتی در غرب شهرک صنعتی این شهر را با هزینه بیش از ۲۲ میلیون افغانی آغاز نموده است که کار آن ۹۰٪ پیشرفت فزیکی دارد و در حال تکمیل است. این پل، شهرک صنعتی را به شهرک اندیشه وصل می‌نماید و هدف آن بهبود زیرساخت ترانسپورتی و تسهیل سرمایه‌گذاری است. این پروژه توسط شرکت "سوپر کولا" تمویل و از سوی "تراز نگار" تطبیق می‌گردد، که روزانه توسط انجنیران شاروالی گذره نظارت می گردد.



هرات ۴۵

مدیریت ناحیه اول شاروالی بامیان از روند جمع‌آوری و انتقال زباله‌های جامد در ساحه شهرک جدید دشت عیسی‌خان، نظارت نموده و به کارمندان شرکت تنظیفی در مورد بهبود کیفیت خدمات، تسریع در انتقال زباله‌ها، جلوگیری از انباشت زباله در نقاط مختلف و رعایت اصول صحی، هدایات لازم ارائه گردید.

بامیان ۴۶

د هرات ښاروالۍ له لوري د ۱۳مې ناحیې اړوند پر قارون رود د نوي پل د جوړېدلو چارې په چټکۍ سره روانې دي. دغه پل ۱۱۱ متره اوږد او ۱۶،۵ متره پلن دی او د ۵۰ میلیونه افغانیو په لګښت د ښاروالۍ له پرمختیایي بودجې څخه جوړېږي. د پروژې چارې د کیفیت تر جدي څار لاندې دي.



هرات ۴۷

د هرات ښار د حلقوي سړک د دریيمې برخې د اسفالټ پروژې د اساسي طبقاتو چارې روانې دي. دا برخه ۸۰۰ متره اوږده او ۷،۵ متره پلنه ده او د ۹،۵ میلیونه افغانیو په لګښت د ښاروالۍ له پرمختیایي بودجې څخه تطبیقېږي. د پروژې چارې تر دوامدار تخنیکي څار لاندې دي.



هرات ۴۸

## شاروال مزارشریف از چهارراهی‌های قول اردوی ۲۰۹ الفتح و فابریکات کود برق دیدار کرد



مزارشریف ۴۹

حافظ عبدالرحمن همت، شاروال مزارشریف از چهارراهی های قول اردوی ۲۰۹ الفتح و فابریکات کود برق دیدار کرد و از نزدیک وضعیت این نقاط مهم شهری را بررسی نمود.

شاروال مزارشریف گفت که به‌منظور بهبود وضعیت ترانسپورتی، کاهش ازدحام و ارتقای زیبایی شهر، کار بازسازی، زیباسازی و عریض‌سازی سرک‌های اطراف چهارراهی‌های متذکره به‌زودی با همکاری تخنیکی شاروالی مزارشریف آغاز خواهد شد.

وی همچنان افزود که در کنار این اقدامات، برنامه‌هایی برای تزئین و بهبود روشنایی شهری (تنویر)، سرسبزی و ایجاد فضای سبز، نصب کتارهای فلزی معیاری و احداث فواره‌های آب در این چهارراهی‌ها روی دست گرفته شده است.

د هرات ښاروالۍ د اتمې ناحیې اړوند پر ۴۸۰۰ متر مربع ځمکه د غیرنیوني یا پهلواني میدان د جوړېدلو پروژې د آفرخلاصولو غونډه ترسره شوه.
د آفرپرانیستلو دغه غونډه د ټاکل شوي پلاوي تر څارنې د شنبه په ورځ ۱۴۴۷/۷/۲۰ هـ.ق نېټه له غرمې مخکې ۱۰ بجې د علني غونډې په ترڅ کې د تدارکاتو او قراردادونو امر قاري محمد ابراهیم ذاکر، د اړوند برخو مسؤولینو او ګډون کوونکو شرکتونو د استازو په شتون کې ترسره شوه.



هرات ۵۰

به منظور ایجاد محیط پاک و تمیز در شهر کارکنان آمریت تنظیف و سرسبزی شاروالی مزار شریف جوی‌ها و کانال‌های نواحی پنجم و ششم شهر را پاک‌سازی و کثافات را جمع‌آوری کرد و به دور از شهر انتقال دادند.



مزارشریف ۵۱

## کندهار ښاروالۍ خبرتیا!

د کندهار ښاروالۍ د ۱۴۰۴ مالي کال د پرختیایي بودجې او تدارکاتي پلان له‌مخې، د جادو تنویر دوهم فاز (د بریښنا کوټ عمومي سړک د روښانه کولو پروژې) قرارداد د ولي محمد محمدي ساختماني شرکت سره د ۶،۱۳۲،۰۰۰ افغانیو په ارزښت د رسمي طی‌مراحلو په حال کې دی.

هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې اعتراض لري، کولای شي خپل لیکلي اعتراضونه د جدي له ۲۰ - ۲۳ پورې د تهیه او تدارکاتو عمومي مدیریت ته وسپاري.

د نورو معلوماتو لپاره: ۰۷۰۷۹۷۰۷۶۰

کندهار ولایت

طبق هدایت الحاج مولوی محمد فیروز فاروقی، شاروال شهر ایبک به تعداد ۷ قلم لوازم زمستانی از قبیل جمپر، کلاه، موزه، بوت، جراب، ماسک و دستکش جهت نظافت، حفظ الصحه و پیشبرد بهتر امورات روزانه خریداری و برای کارکنان خدماتی ریاست شاروالی شهر ایبک توزیع گردید.



غور ۵۲

اروزګان -ترینکوټ ښاروالۍ د ښاري ښکلا لپاره د احمدشاه بابا، میرویس نیکه او غازي امان‌الله خان سړکونو د منځنیو ګلدانونو رنګولو کار پیل کړ. پروژه شاوخوا ۴۰۰۰ متره اوږده ده او ارزښت یې ۲ میلیونه افغاني دی. ښاروالۍ د ښاریانو همکارۍ ته اړتیا لري.



اروزګان ۵۳

د محمودراقي ښاروالۍ د پاکوالي ټیم له بېلابېلو سیمو څخه کثافات راټول کړل او ټاکل شوو ځایونو ته یې ولېږدول. دا ګام د ښاري نظم، چاپیریال پاکوالي او عامې روغتیا د ساتنې لپاره اخیستل شوی. ښاروالۍ ډاډ ورکوي چې دا چارې به په دوامداره توګه ترسره شي.



کاپیسا ۵۴

جلسه شبکه شاروالی‌های ولسوالی های ولایت بادغیس به میزبانی شاروالی قلعه‌نو، امروز یکشنبه (۲۱ جدی) برگزار شد. هدف این نشست تقویت همکاری‌ها، تبادل تجارب، بررسی چالش‌های شهری و یافتن راه حل‌های مشترک خوانده شده است. نمایندگان شاروالی‌های بالا مرغاب، غورماچ، سنگ آتش و دره بام پیرامون موضوعاتی چون تطبیق نقشه شهری، استملاک، مشارکت شهروندان و حکومتداری محلی بحث کرده و بر تداوم همکاری‌ها تأکید نمودند.




کاپیسا ۵۵

د جلال‌اباد ښاروالۍ د ښاري نظم د راوستو لپاره کمپاین پیل کړ. ښاري انظباطان په لومړۍ ناحیه کې لارې پاکوي او لاس پلورونکو ته خبرداری ورکوي: که نظم مراعت نه کړي، لاسي کراچۍ به یې ضبط شي. ښاروالۍ وايي؛ دا هڅې به هره ورځ دوام ولري.



ننگرهار ۵۶

اداره شاروالی نیلی ولایت دایکندی طبق هدایت شاروال این شهر قاری آغا ولی قریشی و در چارچوب پلان هفتگی کمیته تنظیم بازار، ۳۲ باب دکان در کوچه مارکیت‌های شمال چوک گل بادام را به دلیل مسدود سازی معبر و بستن پیاده‌روها مهرلاک نموده است.
همچنان به دکان‌داران هشدار داده شد که تا زمان رفع مشکل، حق بازگشایی خودسرانه دکان‌های‌شان را ندارند.




دایکندی ۵۷

د ننگرهار- غني‌خېلو ښاروالۍ او شینوارو ولسوالۍ، امنیه قومندانۍ چارواکو، د مارکو بازار په عمومي سړکونو او پلو لارو د خلاصولو کمپاین ترسره کړ. د کاندارانو ته خبرداری ورکړل شو؛ که لارې یا پیاده پلې لارې بندې کړي، دوکانونه به مهرلاک شي او شکایت حق نه لري.



ننگرهار ۵۸

د جلال‌اباد ښاروال مرستیال حافظ نور محمد بدر او د انجنیرۍ ټیم د څلورمې ناحیې لویې سیخدارې ویالې د کارونو له ننداره وروسته وویل: کیفیت زموږ لومړیتوب دی او هیڅ غیر معیاري کار به ونه زغمل شي. پروژه د ۱۵،۸ میلیونو افغانیو په ارزښت ۱۲۱۶ متره اوږده او ۱،۳۰ متره پلنه ده. اوسېدونکي د ویالې جوړېدو خوښي ښودلې او د ښار په نورو برخو کې د ورته پروژو غوښتنه کوي.



ننگرهار ۵۹

شاروال پلخمری ولایت بغلان، امروز یکشنبه ۲۱ جدی ۱۴۰۴ در کنفرانس معلوماتی از سوی مسؤولین انسجام امور شاروالی‌ها برگزار گردیده بود اشتراک نمود.این کنفرانس به منظور حل مشکلات و سهولت در روند ویزه ساختمان از طریق مکالمه ویدیویی با شاروالی‌های ولایات تدویره گردیده بود.
در این نشست، بخش‌های تخنیکی معلومات مفصل در مورد ساحات پلانی و غیرپلانی ارائه نموده و مشکلات موجود از سوی مسئولین شاروالی‌ها استماع و بررسی گردید.



بغلان ۶۰

در هماهنگی با مدیریت فرهنگی شاروالی تالقان ولایت تخار، شرکت مخابراتی سلام دروازه ورودی شهر را رنگ آمیزی و دیوارنگاری نمود. این کار به هدف زیبا سازی شهر، تقویت هویت فرهنگی و ایجاد فضای دیداری مناسب انجام شده است.
مدیر فرهنگی شاروالی تالقان، این کار را گامی مهم در معرفی چهره فرهنگی تالقان دانسته و از همکاری شرکت سلام قدردانی کرد.




تخار ۶۱

د لښکرگاه ښار په اته‌گونو ناحیو کې د ښاروالۍ او ګډ کمېسیون له لوري د خوراکي او غیر خوراکي توکو او خدمتونو نوې نرخپاڼه جوړه او د تطبیق لپاره هټیوالو ته ووېشل شوه. ښاروالۍ وايي؛ نرخپاڼې به هر ۱۵ ورځې تازه کېږي او د اصولو پر پلي کېدو به جدي څارنه روانه وي.

هلمند ۶۲

د پلخمري ښاروالۍ د تنظیفاتي کارکوونکو له لوري د کثافاتو راټولولو چارې دوام لري او له سړکونو او ویالو څخه زیاته کچه کثافات انتقال شول. د ښاروالۍ مسؤولین وايي؛ د پلخمري ښار د پاکوالي او ښېرازۍ لپاره به هڅې نه دریږي.



بغلان ۶۳

د مارکو بازار د نظم ټینګښت لپاره د شینوارو ولسوالۍ په مقام کې غونډه وشوه. چارواکو د هوټلونو مالکانو او د ترانسپورتي هډې قراردادي ته هدایت وکړ چې په عمومي سړکونو کې د موټرو تمول او د بازار پر چوک هډې جوړه‌ول منع دي. د غني‌خېلو ښاروالۍ؛ سرغړونې په صورت کې به د شکایت حق نه لري.



ننگرهار ۶۴

د کندهار ښار د حلقوي سړک (بای‌پاس) د تخریب او مسیر تخلیې چارې ۷۰٪ بشپړې شوې. دا ۱۰ کیلومتره اوږد او ۴۰ متره پلن سړک به د ټرافیکي ستونزو په کمولو او ښاري نظم په ښه کېدو کې مهم رول ولوبوي. ښاروالۍ وايي؛ د مسیر بشپړ خلاصون به په راتلونکو ۳ اونیو کې بشپړ شي.



کندهار ۶۵

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

مدیریت کنترل امور مارکیت‌های شاروالی میمنه با همکاری مدیریت انضباط شهری و مدیریت ناحیه سوم، دکاکین واقع در امتداد مسیر حوزه دوم امنیتی و کوچه های فرعی آن که در بخش خرید و فروش آهن کهنه فعالیت داشتند، پس از تذکرات مکرر به‌منظور انتقال فعالیت‌ها به داخل سرای‌ها، و به‌دلیل مسدود شدن پیاده‌روها و ایجاد بی‌نظمی در جاده مهر و لاک نمود.



فاریاب ۶۶

مدیریت تنظیف و سرسبزی شاروالی چاریکار زباله‌های ساحات پارچه هشتم که شامل پاک‌کاری جویچه‌های پارچه ۱۲ و جاده نعمان نیز بود به منظور حفظ نظافت و بهداشت عمومی جمع‌آوری نمود. علاوه بر این، زباله های مسیر کابل-پروان به محل مناسب منتقل گردید و گلدان‌های شهر از وجود زباله‌ها پاک‌سازی شد. همچنان زباله‌دانی‌های پارچه ۱۱ تخلیه گردید و زباله‌ها از پارک ناحیه پنجم نیز جمع‌آوری و منتقل شد.



پروان ۶۷

د لښکرگاه ښاروالۍ کې د چارو د ښه همغږۍ او اغېزمن تطبیق لپاره ۷ کمېټې جوړې او په کار یې پیل وکړ. دا کمېټې د ښاري نظم، اقتصادي پراختیا، چاپېریال ساتنې، ټولنیزو چارو او د ځوانانو ملاتړ برخې رانغاړي، چې موخه یې د ښار د چارو چټکتیا او اصلاح ده.

هلمند ۶۸

کار زیرسازی بخش‌های باقی مانده پروژه آسفالت سرک پل مرده‌کشان تا پوهنتون غیاثیه به طول ۴ کیلومتر و عرض ۷.۵ متر، با هزینه حدود ۶۰ میلیون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی هرات به سرعت جریان دارد. این پروژه در نواحی پنجم، هشتم و پانزدهم اجرا شده و شامل احداث پلچک‌ها نیز می باشد. شاروالی به‌گونه دوام‌دار بر روند کار نظارت دارد. با تکمیل آن، رفت‌وآمد شهری تسهیل، ازدحام کاهش و دسترسی به مسیرهای مهم شهر بهبود می‌یابد.



هرات ۶۹

کار احداث بخش‌های باقی‌مانده کانال جاده مجیدی در ناحیه ششم هرات با هزینه حدود ۳ میلیون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی شهر هرات ادامه دارد.انجینیران و مسئولان شاروالی به‌گونه دوام‌دار روند و کیفیت پروژه را نظارت می‌کنند. با تکمیل این کانال، مشکل آب‌گرفتگی مسیر رفع و سهولت برای باشندگان فراهم می‌گردد.

هرات ۷۰

د مهترلام ښاروالۍ د تنظیف او زرغونتیا کارکوونکو د دویمې ناحیې ویالو او پلچکونو د پاکولو او د کثافاتو د انتقال چارې ترسره کړې. ښاروالۍ وایي؛ د پاک چاپېریال ساتنې لپاره به دا بهیر د پلان له‌مخې په ټولو ناحیو کې دوام ولري.



لغما ۷۱

مسئوول تنظیم مارکیت‌های شاروالی بامیان به‌منظور تأمین نظم شهر، حمایت از حقوق شهروندان، رعایت اصول حفظ‌الصحه و تطبیق قوانین، از وضعیت صحی و اوزان خوراکه‌های ارائه‌شده در هوتل‌ها و رستورانت‌های بازار غلغله واقع ناحیه دوم شهر بامیان نظارت نمود.



بامیان ۷۲

غزني ښاروالۍ د کډې ښاري کمېټې په همکارۍ د ښار په بېلابېلو بازارونو کې پراخه څارنه ترسره کړه. په دې څارنه کې د خوراکي او لومړنیو توکو بیې، کیفیت او د عامه لارو پر سر د توکو ایښودلو وضعیت وڅېړل شو. مسؤولینو د ښاري نظم، عادلانه نرخونو او د ټرافیکي ستونزو د مخنیوي په موخه له هټیوالو سره لازمې سپارښتنې شریکې کړې. دا ډول څارنې به دوام ولري.



غزني ۷۳

پروژهٔ کانکریت‌ریزی گذرهای مختلف ناحیهٔ ششم شهر هرات به طول مجموعی حدود ۲ کیلومتر، با هزینهٔ ۱۷ میلیون افغانی از بودجهٔ انکشافی شاروالی هرات، تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شد.
این پروژه شامل کانکریت‌ریزی گذرهای ۶، ۱۲، ۱۴ و ۱۵ در امتداد جوی انجیل، در موقعیت‌های مختلف ناحیهٔ ششم شهر هرات می‌باشد که به طول مجموعی ۱۹۰۰ متر و عرض ۸ متر، همراه با احداث پلچک‌ها تطبیق گردیده است.
مراسم افتتاح و آغاز بهره‌برداری این پروژه با حضور مولوی جلال‌الدین حقدوست، معاون شاروالی هرات، انجینر ناحیهٔ ششم، بزرگان محل، وکلای گذر، رؤسای شوراهای انکشافی و شماری از مسئولان دیگر این اداره برگزار شد.



هرات ۷۴

به‌منظور تأمین نظم شهر، تطبیق اصول صنفی، رعایت مقررات شاروالی و تشویق کسبه‌کاران به اخذ و تمدید جوازهای صنفی، از فعالیت‌های اقتصادی در مربوطات ناحیه سوم شهر بامیان توسط مدیریت ناحیه مربوطه نظارت به‌عمل آمد.

بامیان ۷۵

به‌منظور جذب افراد شایسته و سپردن مسئوولیت‌ها به اهل آن، شاروالی محمودراقی امتحان رقابتی سه بست خالی خویش را برگزار نمود.



کاپیسا ۷۶

شاروالی میمنه به منظور جمع‌آوری محصول صفایی، ۸ مورد تعرفه بانکی را برای مالکین تانک‌تیل‌ها، موترشویی‌ها و میدان‌های فوتسال تهیه، چاپ و توزیع نمود و از شهروندان میمنه تقاضا می‌نماید تا در پرداخت به‌موقع وجایب مالی خویش همکار باشند.




فاریاب ۷۷

مدیریت عمومی سرسبزی شاروالی هرات روزانه به‌گونه منظم در پارک‌ها و بلوارهای شهر فعالیت می‌نماید. این فعالیت‌ها شامل چمن زنی، جمع آوری زباله، قیچی کاری درختان، جوی کاری، آبیاری و جمع آوری تخم نباتات جهت تکثیر مجدد می‌باشد. مسؤولان شاروالی از شهروندان می‌خواهند تا در حفظ فضاهای سبز و پاکی محیط با این اداره همکاری نمایند.



هرات ۷۸

د کابل –قره‌باغ ښاروال د اداري کارکوونکو په ملتیا د بازار د نظم او ترتیب له وضعیت څخه هراړخیزه لیدنه وکړه. د ښاروالۍ د اصولو د سرغړونکو پر وړاندې قانوني چلند وشو او د کابل - پروان عمومي سړک د نظم، پاکوالي او د ټرافیکي ستونزو د مخنیوي په اړه جدي سپارښتنې وشوې.

کابل ۷۹

اروزګان- ترینکوټ ښاروالۍ د ښار په څلورمه ناحیه کې د باراني اوبو د ستونزو د مخنیوي لپاره د ۱۵۰۰ مترو په اوږدوالي د یوه لوی کانال د پاکولو چارې پیل کړې. د دې کانال په بشپړېدو سره به سیلابي اوبه مهار او په منظم ډول لویو ویالو ته ولېږدول شي، چې د سړکونو د اوبو ختلو مخه به ونیول شي.



اروزګان ۸۰

شاروالی میمنه ۳۵۰ اصله درخت ناجو را که به دلیل تغییرات اقلیمی، شرایط جوی و محیطی، گسترش ساخت‌وسازها و کمبود منابع آبی خشکیده بودند، قطع نمود. این اداره در نظر دارد مطابق پلان سال مالی، به جای درخت‌های قطع‌شده، نهال‌های تازه و جوان غرس نماید.



فاریاب ۸۱

د کابل- قره‌باغ ښاروالۍ په مالي ملاتړ د چاپېریال ساتنې تر نوم لاندې د فوتسال جام سیالۍ د قره‌باغ په جمنازیوم کې ترسره شوې. په دې پړاو کې له اتو ټیمونو څلور ټیمونه پایلوبو ته ووتل.

کابل ۸۲

## د پل‌علم ښار عمومي سړک د ۴۷ میلیونه افغانیو په لګښت رغول کېږي




لوګر ۸۳

د پل‌علم ښاروالۍ له لوري د لوګر ولایت په مرکز پل‌علم ښار کې د شهیدانو له څلورلارې څخه تر پایخیلو سیمې پورې د ۱.۲ کیلومتره عمومي سړک د بیارغونې چارې د یو لړ رسمي مراسمو په ترڅ کې پیل شوې. په دغو مراسمو کې د لوګر مرستیال والي، د ښاروالیو چارو د سمون لوی رئیس، د پل علم ښاروال او د یو شمېر ملکي او نظامي ادارو مسؤولینو ترڅنګ ګڼ شمېر ښاریانو ګډون کړی و. دا پروژه د ۴۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د ښاروالۍ له پراختیایي بودجې څخه تمویلېږي.

یاد سړک چې ۱۳.۵ متره سور لري، د قراردادي شرکت له لوري به د څلورو میاشتو په موده کې د اساسي معیارونو له مخې جوړ شي او دواړو غاړو ته به یې لښتۍ او پلې لارې هم شاملې دي. د دې پروژې موخه د ښاریانو لپاره د تګ راتګ اسانتیا رامنځته کول، د ټرافیکي ستونزو کمول او ښار ته ښکلا وربښل دي، ترڅو د پل‌علم ښار د ښاري زیربناوو د پیاوړتیا لپاره یو مهم ګام واخیستل شي.

